هوا نن دکيوبا مشکلات له پخوا نه زيات شوي اوهغه ځکه چي دهغوي باداراتو (روسانو) پري هم خپلي اقتصادي مرستي بندي کړي اوله روسانو سره نور دکيوبا اهميت له مينځه تللي نوځکه روسي مشرانو له کيوبا نه مخ راگرځولي او له روسانو نه هم دخپلو اقتصادي مشکلاتو دحل په هکله لپاري گوډري ودگي شوي اوحتي خپل اقتصادي مشکلات دغربيانو په مرستو اوخيراتونو جبرانوي اوپه روسيه کي دکمونستي پلانونو په ځاي دغربيانو د اقتصادي سيستم په بناخپلواقتصادي پلانونو ته دعملي کيدو لپاري گوډري جوړوي خودروسانو ويجاړاوله کمونستي نظام نه وروته پاتي نيستي يي دپانگوال اقتصادي سيستم دپلانونو دعملي کيدو په وړاندي هم داسي لوي لوي خندونه راپيدا کړي چي حل يي نن دروسي داوسني دولت له قدرت نه هم لري کاريښکاري.

اوس نوکيوبا پاتو ته دا پکار دي چي لدي وړاندي دخپلي ټولني په سرنوشت لوبي ونه کړي اوټولوبايد خپل مظلوم ولس ته ددي اجازه ورکړي چي په ازاده فضاکي ژوندوکړي اودروسانو دغلامي ځنځيرونه له خپلو غاړو اودکمونيزم بي معني اوغلطي مفکوري له خپلومغزونه داسي لبري کړي چي بيا دکمونيزم نوم هم په خوله وانخلي او که داسي ونه کړي نوليري به نه وي چي فيډل کاسترو به هم له روسانو نه په بدسرنوشت اخته اوټوله به يي لده سره يوځاي دتباهي کندي ته گذارشي لکه چي نن روسي ټوله اوامپراطوري دزوال په درشل کي ولاړه ده او نړيوال يي له علاج نه عاجز پاتي شوي.

نوريه علي اوبين المللي سويه کمونيزم خپل اهميت له لاسه ورکړي اوپه نظر پاتو يي توري کرښي کش شوي اوس که کيوبا اوچين په هره سويه دکمونيزم دړنگيدو مخه ونيسي نودايه ددي معني ولري لکه چي څوك د بحر په وړاندي دشگو بند جوړ اوخپل وخت بيځايه اوهغه هم په بي ځايه کارونو لگوي لکه چي نن يي کيوبايان اوچينايان لگوي اودکمونيزم دغلطو اوبي هدفه نظرياتو له اتهات نه انکارکوي. والسلام .

قدرمن ورور سلطان محمد فهيم صيب دحضرت امام اعظم (رح) دمدرسي د۱۲ ټولگي زده کوونکي سلامونوته موعليکم والسلام .

وروره ! تاسي چي دطالبانو دتلوراتلولپاره دموټرونو له کميت نه کوم شکايت کړي، هيله ده چي دابه دتعليم اوتربيي له رياست سره دخپلي اداري له لاري مطرح کړي، اوداچي تاسي ويلي، دعصري لبسواوباماموريتو موټرونه تش سپتونه ځي راځي اوعمله يي کمه ده ، زه ورسره موافق نه يم . ځکه څومره مشکل چي تاسي لري، همدومره ستاسي په اصطلاح عصري ليسي اوماموريتو هم لري، اوله هره نه موږته شکايت رارسيدلي دي، بياهم موږهيله لروچي دتعليم اوتربيي رياست به دمالي رياست په همکاري ستاسو مشکل حل کړي .

والسلام

#####

محترم ښوونکي صاحب ملاخيل !
السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته .
ستاسوله تأثر نه ډك ليك راورسيد، چي دهجرت په چاپيريال کي يي دښوونکي له دردمن ژوند ترجماني کوله ، رښتياهم چي زمونږ په ټولنه کي دښوونکي . ستراوارزښتمن شخصيت کماحقه ندي پيژندل شوي، اواوس چي پري دعبوري حکومت له خواکومه داپريښن عمليه سرته رسيږي، لکه دمعاش معطليدل، اوبايي دنيراسکاسره تړل ، ددغي مرږواندي اداري ښه عکاسي کوي، باوروکړه ، چي دسپين جومات پرغونډه دپوليسو له خوادکوټکوگوزاروونه ، چي دهمدغي اداري په اشاره سرته رسيدلي، مونږ هماغه وخت دشهادت پرسرمقاله کي په ډاگيزدول غندلي، اوددغي ستونزي دزرترزره حل اخطارمو ورکړي و، اوداچي که بياهم داستونزه حل نه شوه ، نوشهادت به دهيواد دښوونکو دترجماني اودهغوي دهيلو دعکاسي دنده سرته رسوي، اوستاسو افکاربه په ورين تندي خوروي ، اوس نويه همدي قناعت کوو .
والسلام

####

قدرمن وروالحاج ارسلاح خان ستاسي ليك راورسيد، سلامونوته دي وعليکم السلام .

وروره ! کومي غلطي ته چي تاسي اشاره کړي اوويلي مودي چي دقوماندان محمددل نوم مومحمدي ليکلي و ، پداسي حال کي چه محمدي په نامه کوم قوماندان نشته .

ستاسو له دي همکاري نه چي موږ موغلطي ته متوجه کړي يومننه کوو اوداچي دبشپړي مرکي ديبا خبرولو غوښتنه موکړي، هيله ده چي په دي هکله زمونږ معذرت ومنې .

هيله لروچي زمونږاشتباهات راته په گوته کړي . والسلام

###

ورور شيرمحمد زمونږ سلامونه هم ومنې !

داخبره ځرگنده ده چي زمونږ دمجاهدينو اوجهادي مشرانو لپاره ترټولو ډيرضروري شي اتحاددي په ځانگړي توگه دانقلاب په دي حساسوشيبو کي په وړاندي مرگڼ شميرتوطيي اوسازشونه چي يوبي دظاهرشاه دراتلودي ترڅنګه الحاد ضروري دي . دادي ستاسي دليك يوه برخه چي مشرانو ته مو په خطاب کي ليکلي خبرو ، که په افغانستان کي له مجاهدينو پرته دبل چاحکومت راځي نومسئوليت به يي دموږدمشرانو په اووږو ، په ځانگړي توگه دهغه چاچي اتحادنه کوي ... زه په آخرکي له خداي (ج) نه غواړم چي زمونږمشرانوته داتحاد اواتفاق توفيق ورکړي .

########

برادرمحترم عبدالوحيد !
السلام عليکم !
وبعد، آنچه راکه شمادرمورد اتحادميان تنظيم هاي اسلامي افغانستان نوشته ايد، آرزوي هرفردمسلمان است . بناء قسمتي ازنامه مطول تانرابه منظور جلب توجه صاحبان امور، به نشرسپرديم ، تامگرسخنان شماکارگرافتد . والسلام

من نميدانم که چه مشکلي درراه اتحاد گران شماوجود دارد که هنوزهم اتحاد نميکنيد !

بلي : مشکلي بسياربزرگ براي تان وجود داردوآن اينکه چطور ازيك پليست چوکي تان تيرشويد، واگرتيرشويد ديگرچانس قدرت را ازدست داده ايد پس چطور مشکل برايتان نباشد .

من شمارا ازاستاد شدن درپيش گاه خالق کائنات ميترسانم وميگويم که شمابراي" خداوند (ج) چه جواب خواهيد داد، وبراي شهداي انقلاب اسلامي چه ميگوئيد وقتيکه آنهاازشما بپرسندکه مابه خاطرقايم نمودن حکومت اسلامي سرهاي خودرا فداکرديم شماراچه شده بودکه ازيك پليست چوکي تان تيرميشديد؟ بناء اي رهبران محترم جهاد ازخدابترسيدبيش ازاين درپي قدرت طلبي نباشيد که چانس ازنزدتان ميرود واگرخدانا‌خواسته ظاهرخائن درسرزمين شهدا پاي کثيف خودراماند درآن وقت ازمحاکمه خداوند (ج) درآخرت ، وازمحاکمه يتيمان وبيوه زنان دردنيا که ازيخن تان خواهدگرفت وياتکان دادن محکم ازنزدتان خواهدپرسيد ندکه مسئول همه اين دربدري هاشماهستيد خودراخلاص کرده نميتوانيد . بااحترام
عبدالوحيد اکميپ ناصرباغ

####

برادرمحترم سراج الدين !
نامه حاکي ازدرد ورنج تان که لبرنه ازجفاکاري کاغذپراني حاکمه برادارات را جلو چشم آدمي ميگذاشت ، به دفتر اداره شهادت مواصلت کرد . ماضمن عرض تسليت به شماوتوفيق عمل به دست اندرکاران براي حل مشکلات مستمندان ، يك قسمت ازشعرارسالي ان رادرصفحه شعر بدست نشرسپرديم .
(اداره)

#####

نويسنده محترم " قصه اسلامي سبق آموزوپرتعجب " !
السلام عليکم !
وبعد، ازارائه وتقديم معلومات تان درمورد " شق القمر " اظهارشکران مينمائيم - ولي درنوشتارتان يکمقدارتناقض يابه قول خودشما " فضوليها " بنظرميرسد؛ بحيث مثال :
۱- چون قاضي هندو حادثه شق القمرراتماشاکرد، غلام خودرا به غرض تحقيق احوال وديدار پاسيدنامحمدعليه الصلواة والسلام ، به حجازفرستاد .
۲- رفت وبرگشت غلام، بيشتر از ۷ ماه را دربرگرفت .
۳- وقتي غلام به عربستان رسيد، حضرت پيامبرعليه السلام ازجهان رحلت نموده عهد خلافت اميرالمومنين ابابکرصديق رضي الله عنه بود .
٤- مردم ازقاضي هندو پرسيدند : اگر غلامت مراجعت کند ، آيابه خداي يکتا ايمان خواهي آورد ؟
قاضي جواب داد : بلي : درصورتيکه شخص محمدعليه السلام راملاقات نمايد .
۵- زمانيکه غلام به هندوستان برگشت ، خبريافت که قاضي ۷۳ ساله ازجهان درگذشته است . بدين ترتيب نه شرف مصاحبت پيامبر بزرگواررا دريافت ونه درگذشت قاضي هندورا .

باتوجه برموارد فوق، فضوليهاي ذيل را درنوشته تان مي يابيم :
نخست اينکه : حادثه شق القمر درمکه مکرمه وقبل ازبعثت صورت پذيرفته ، درحاليکه رحلت حضرت پيامبر درسال هجرت درمدينه منوره بوده است .
دوم آنکه : فرجه ميان واقعه " شق القمر " ورحلت حضرت محمد(ص) بيشتر از ۱۲ سال ميباشد . درحاليکه طول مسافرت غلام به کمترازدوثلث يکسال ميرسد .
واما درقسمت قاضي بايد گفت که : ايمان مشروط، ايمان نيست ، زيرا درشريعت ما، ايمان برپايه تفکروعقيده استواراست، نه برچيز ديگري .
علاوه براين قاضي هندو قبل ازآنکه غلامش مراجعت نمايد، در گذشت تا اگر غلام حضرت محمد ص را مصاحبت کرده بود ايمان مي آورد والاخير .
لهذا ، هندوي موصوف بدون تلقين وتشرف به ايمان ، درگذشته است .
والسلام

########

دسودان لنده پیژندنه

کریمي

نوم : دسوډان جمهوریت
پایتخت : خرطوم
بحري بندر: پورسوډان
مروجه پیسې : سوډاني جنیه
دخپلواکي تاریخ : د ۱۹۵٦ دجنوري لومړۍ نیټه
ددولت رئیس اوصدراعظم : جنرال عمرحسن البشیر
ددولت درئیس اوصدراعظم مرستیال : زبیرمحمد صالح

سوډان په اسلامي اوافریقایي ملکونوکي ترټولوغټ اوهمدارنګه دنړۍ دلسوغټوملکونو په قطارکي شمېرل کیږي.

دسوډان مساحت ۲٫۵۰۵۸۱۳ کیلومتر مربع دي چې دټولي افریقا ٪۸ر۲ اودنړۍ ٪۲۰ مساحت تشکیلوي

دسوډان په شاوخواکي ۸ دولتونه موقعیت لري چه په شمال کي یې مصر اوشمال لویدیځ کي ئې لیبیا په ختیځ کي یې اتیوپیا اوپه جنوب کي یې کینیا ، یوګندا اوزائیراوپه لویدیځ کي یې چاداومنځني افریقا موقعیت لري اوهمدا رنګه سره بحیره په ختیځ کي سوډان دسعودي څخه جلا کوي.

ب / آب اوهوا: -
دسوډان اقلیم په شمال کي نسبتاً وچ او صحرائي دي اوپه جنوب کي مرطوب اواستوایي دي چې ډیرورښت پرکیږي داورښت موسم په جنوب کي له ٦څخه تر ۹ میاشتو دوام کوي او همدارنګه سوډان په مرکزي برخوکي زیاته اندازه ورښت کیږي.

ج / نفوس :
دسوډان نفوس تر ۲ر۲٦ ملیونو پوري رسیږي اود ۱۹۸۳ کال داحصائي له مخي ۳ر۲۱ ملیونه وه . دنفوس زیاتوالي نسبت فعلاً د ۹۸ ٪ ۲ر۳ ترمینځ دي سوډان یو جدید التشکیل هیواد دي چې دنیم نفوس عمرونه یې له ۱۵ کالو څخه کم دي اود ٪٤ څخه دکم نفوس عمرونه یې ۷۰ کالوته رسیږي.
٪۸۰ وګړي یې کلیوال اواطرافي ژوند لري اوپه هرمیل مربع کي ۲۵ نفره ژوند کوي اوهمدا رنګه ۲ر۱ ملیون مهاجر دګاونډیوهیوادو څخه دغلته میشته دي.

د / ژبه :-
دسوډان رسمي اوتعلیمي ژبه عربي چې تقریباً په ۱۱۵ ژبو تکلم یکې کیږي او ۵۳ محلي ژبې لري اوانګریزي ژبه په ټول ملك کي په وسیع پیمانه خبره چې زیاتره خلك په انګریزي پوهیږي.

د تعلیم اوتربیه :-
په سوډان کي زده کړه په وړیاتوګه دهر سوډاني حق شمیرل کیږي چې ابتدایي دوره د ۷ څخه تر ۱٤ کالو اومتوسطه دوره د ۱۳ څخه تر ۱۵ اوثانوي دوره یې د ۱٦ څخه د ۱۷ کالو په موده کي ده .
فعلي حکومت پدې کوښښ کي دي چې دبیسوادي نسبت له ۷۰ - ٦۰ ٪ پوري د ۱۹۹۱ م کال پوري راټیټ کړي له ۱۹۹۱ م څخه دمحصلینو تعداد په پوهنتونوکي دوه چنده کړاي شو او ځلورنوي پوهنتونونه تاسیس کړاي شول .

ز/دسوډان پوهنتونونه :
۱- دخرطوم پوهنتون .
۲- دقاهري پوهنتون دخرطوم څانګه .
۳- دام درمان اسلامي پوهنتون
٤-دسوډان دساینس اوتکنالوژي پوهنتون .
۵- دقرآن اواسلامي علوموپوهنتون .
٦- دکردفان پوهنتون
۷-دفاتح پوهنتون په دارفورکي
۸- دجزیري پوهنتون .
۹- دجوبا پوهنتون
۱۰- دشرق پوهنتون
۱۱- دوادي نیل پوهنتون

ددغي پورته ذکرشوي پوهنتونو څخه علاوه په سوډان کي بعضي محلي پوهنتونونه اوفاکولتي وجود لري لکه داحفادپوهنتون داناثولپاره دأم درمان محلي پوهنتون ، دسوډان پرائیویټ پوهنتون ،دنجونوفاکولته . اوهمدارنګه په نظرکي ده چې دوه نوي پوهنتونونه یود (بحرالغزال) اوبل د (عالي النیل) په منطقه کي پرانستل شي اودارنګه توقع کیږي چې د الزاهراپوهنتون به په ۱۹۹۲ م کال په خپل کار پیل وکړي.
علاوه د پوهنتونو څخه بعضي محصلین په مصر ، هند ، پاکستان کي په زده کړه بوخت دي.

س / دیانت :-
په سوډان کي رسمي دین اسلام اواکثره خلك یې مسلمانان دي مګردسوډان په جنوبي برخه کي ٦۵٪ خلك بت پرست او ۱۸٪ مسلمانان او ۱۷٪ مسیحیان دي.

ش / صحي وضعیت :-
دعامې روغتیا وزارت خپل خدمات له ۱۹۸۹ کال څخه په منظم دول پیل کړي اواوس په سوډان کي ۳۰۵ شفاخاني چې ۲۷۵۰۰ بستره لري موجود همدارنګه ۱۳۹۹ لوي دروغتیا مرکزونه ۱۲۲٤ کلینیکونه او ۳۲۱۱ دصحي وقایې مرکزونه علاوه ددي نه دعاجلو مرستوصحي مرکزونه دډاکترانو شمیر ۲۵۹۳ او ۱٦۹۵٤ دډاکترانو معاونین اونرسان دي اومامورینو اوکارکونکوتعدادیې ۱۰۹۸٦ ته رسیږي دپروګرام له مخي ددوه زوم کال تراوأتلو په دټولو ماشومانو واکسین ترسره شي چې تر اوسه د ۸۰٪ ماشومانو دواکسینو کار بشپړشویدي.

(اقتصادي بحالي (بیاراژوندي کول)
سوډان داقتصاد په هره برخه کي پیاوړي قوه لري. لکه کرهنه صنعت اومعادن .
دهیواد دروازې ټولوپانګوالولپاره چې په پانګوالي کي دلچسپي لري خلاصي دي پخوابه بهرني پانګوالو لپاره دګټې ترلاسه کیدل مشکل و . اوس دنوي پانګوالي سیستم په عملي کیدو سره یو بشپړ بدلون مینځ ته راغلي اوس بهرنی پانګه وال کولي شي دخپل دصادراتو ترلاسه شوي ګټه له هیوادنه بهر نقل کړي.
ونډه لرونکوته مشوره ورکوله کیږي چې په داسي پروژو کي برخه واخلي کوم چې دوي ته دصادراتو په صورت کي بهرني اسعار ترلاسه نکړي .همدااوس ډیري داسي پروژي اومواقع دصادراتو شته چې بهرني سرمایه راجلبه کړي .لکه دتیل اوتخمونه تولیدات.
په سوډان کي په ملیونونو ایکړه ځمکه دکرني لپاره تیاره موجوده ده چې زیاتره یې په باراني اوبوخړوبیږي کومه چې دځمکي دهرارولو اواوبه خور ضرورت هم نلري.
موږ باور لروچي دصادراتو لپاره ډیرزیات امکانات شته . همدارنګه په سوډان کي نورداسي زراعتي محصولات شته چې صادرشي . دصادراتو په هکله دنوي حکومت دجدي پاملرني په نتیجه کي تیرکال دسوډان په تاریخ کي دلمړي ځل لپاره چیني له سوډان څخني بهرته صادر شو کوم چې دوه کال مخکي په چیني له بهرنه سوډان ته واردیده .
همدارنګه موږ دهیواد په ختیز په سري بحیري دکبانو دروزلو پروګرام پرمخ بیایو، موږ دکبانو دنبه جنسیت دنیولو لپاره په اوبوکي طبیعي ځایونه لرو .
داپه ټوله معنا یولوي کار دي اوموږ ددي امکاناتودپراختیا هڅه مندیو . یله پروژه چې موږ یې پراختیا غواړو هغه داهلي حیواناتو اودخوراکي موادو دپروالي دي.
په کوم ځاي کي چې دکرهڼي مواقع نشته په هغوځایونوکي دسوډان د پراختیا اداره (SDC) دکاغذ اوتختو جوړولوصنعت ته پراختیا ورکوي.
زموږ چیني کارخاني چې کوم فاضله مواد تولیدوي په ځاي ددي چې وسوځول شي ترینه کاغذ اوتختي جوړیږي ، موږ غواړو بهرني ماهرین اوماشین الات پدې پروژه کي استعمال کړو
دمنرالونو د مختلفو اقسامو د زیرمو له کبله دمعدنونو په برخه کي هم ډیر مواقع شته . زموږ دطبیعي منابعو څخه یوهم داوسپني اوسروزرومنابع دي چې دسري بحیري په غونډیو کي شته چې یوه فرانسوي کمپني پري کار کوي هیله ده چې دسروزروکلني صادرات یوټن ته ورسیږي.
همدارنګه سوډان دمرمراوګرنیت ذخایر لري کوم چې په منځني خیزکي یې په زیاته اندازه غونډیته کیږي اوهم په ډیره اندازه دتالك (شورکاني) مګنیځیم اوبینټونایت ذخایرلري.

دسوډان داسلامي کیدو پروسه
سوډان په دو ورستیولسیزوکي دانقلابونوپه ذریعه ډیره اسلامي مملکت په حیث دظاهریدو شاهد دي کوم چې په ۱۸۹۸ کال کي دبرطاني دقواء له خواء ختم کړي شوي ؤ له هغه وخته راپدې خوا دسوډان خلکو دخپل اسلامي تشخیص دبیا راژوندي کیدو لپاره جدوجهد وکړ په ۱۹۵٦ کال کي د آزادي څخه وروسته سمدستي دسوډان خلکو داسلامي مملکت دجوړیدو آواز اوچت کړ.
خیر په هرصورت سیاسي اوعسکري حکمرانانو د ۳۰ کلونو لپاره ددي غوښتني مخه ونیوله(د ۸۰ ومي کلیزې په شروع کښي دبنکرنواوقوانینو داسلامي کیدو کوشش وشراودي تجربي ځیني پوښکاره او اوچته فایده ترلاسه شوه .
په سوډان کي اسلامي پروسه هغه وخت باوري شوه چې د ۱۹۸۹ کال دجون په میاشت کي قدرت ترلاسه کړ اواسلامخواسان دژوند دټولو ضروریاتو پوره کیدو لاره اعلان کړه ، اسلامي کیدل یوازي دحدود دسزا دعملي کیدو لپاره نشوه محدوده .
قومي خلاصون انقلاب (RNS) کوښش وکړخودملك د ټولومشکلاتو لکه - سیاسي - اقتصادي تعلیمي - اجتماعي اوداسي نوروحل لپاره اسلامي لاري چاري پیدا کړي . دوي داکارپه کانفرانسونو کي دعلماؤ پوهانو ماهرانو اوسیاست مداراتو د پراخه ګډون په واسطه ترسره کړ.
په سیاسي دګرکي :-
قومي خلاصون انقلاب (RNS) دشوري دجوړیدو ،بیان دآزادي دمرکزي اوعلاقائي حکومت لپاره دانتخاباتو طریقي اختیارکړي . دشخصي قانون ، جزایي قانون اود جزایي قانون طریقه په مکمله توګه په اسلامي قوانینو ولاړیږول شوي دي
دجنوبي سوډان غیر مسلم خلك دحدود له مجازاتوځیني معاف دي.
داقتصادپه دګرکي :-
حکومت نه یوازې داچي له ټولو مالیاتي ادارو ځني سود ختم کړي بلکه بنکونوته یې هدایت ورکړي څودزراعت ، صنعت اوصادراتو په برخه کي په اوچته پیمانه مالي مرسته وکړي.
دمرابحه - مضاربه اومشارکهٔ اسلامي سیستم دملك قانون طریقه کار ګرځیدلي . زراعت اوس دملك بوګټوړکار وبارګرځیدلي اوزراعتي بینك خپلي پیسي څوچنده کړي اواوس یې لاددهقانانو سره مالي مرستې هم پیل کړي . حتي هغوي چې دقرض دبیرته اداکولو ضمانت هم نه لري ورته قرض ورکولي کیږي.
دتعلیم په دګرکي :.
قومي خلاصون انقلاب RNS په پخوانیو پوهنتونونوکي دشاملینو تعداد زیاد کړي اوشپږنور پوهنتونونه یې تاسیس کړي داددغوځلورو پوهنتونونو برسیره دي کوم چې په راتلونکي کال کي به پرانستي شي . په عالي تحصیلاتوکي تدریس دانګریزي ژبې په ځاي په عربي ژبه کیږي.
دعمومي تعلیم په برخه کي حکومت ددوه کلونو په موده کي لمړني تعلیم ته وده ورکړي اودملك هر ماشوم ته دتعلیم دوړکولو منصوبه لري . همدارنګه د ۲۰۰۰ عیسوي کال پوري دبې سوادي دمحوکیدو پروګرام لري . عمومي تعلیم به یوګیږي . دیني اوغیردیني تعلیم به نه تقسمیږي عمومي تعلیم به په دیني قدرونو ولاړ وي اودعملي کیدو په لور به دمحیطي تقاضو سره سم مخکي ځي .
په اجتماعي برخه کي :
حکومت د (۲بیلیونو پونډو) دتکافل پروګرام ښودلي کوم چې داشباؤ دقیمتونو د انقلاسیون له کبله زیانمن غریبانو سره مرسته کوي.
ددیوان ذکواة په نامه د مقننه اوځانګړي کسانو پواسطه پیسي راجمع شوي اودهغو دمشاورتي کسانو له خواه مستحقینو باندي ویشلي کیږي دایواځني لاره ده چې دوي خپلي پیسي دخپلو کسانو په واسطه کوم چې په مختلفو علاقوکي دي ویشي.
داجتماعي خدماتو وزارت هم په ډیره پیمانه پیسي اوخپل قوت مصرفوي څو کونډو - یتیمانو - معیوبینو اوځواناتو اودټولني تورضعیف کسانو ته یې خدمت کړي وي.
په دي ورستیوکي حکومت د خلکو دمعاشرتي آدابواوعاداتو په برخه کي یوپروګرام چې پکي په حکومتي دفترونو موسسو تعلیمي ادارو اوتلویزیون کي دپوره جامو اغوستل شامل دي . دځوانو هلکانو اوځوانوجینکودودونو په پروګرام کي دحکومت له خوامرسته کیږي اوپه ودونوکي دانقلابي کونسل دغړو ګډون صورت نیسي.
نوربیا

آغازتاریخ دراسلام

عبدالمعبود سراج

تاریخ ماهانه وسالانه درصدراسلام رایج ومعمول نبود ودرسال سوم یاچهارم خلافت حضرت عمر بن الخطاب (رض) بودکه مشکلي پیش آمد زیرا ابوموسي اشعري(رض) به خلیفه نوشت که ازاومکاتیبي دریافت میداردکه فاقد تاریخ است چنانچه دریکي ازمکاتیب خلیفه آمده بودکه "در ماه رمضان" ومعلوم نبودکه کدام رمضان وکدام تاریخ مطلوب است . وقتي استفتاي ابوموسي شعري(رض) مواصلت کردخلیفه درصددعلاج مشکل وچاره جوئي برآمد ویاران ومشاوران خودرا نزدش فراخواند وازآنها درحل این مشکل مشوره ګرفت عده نظردادند که ازروي تاریخ مروج فارس تقلید نماید زیرا آنهاوقتي پادشاه خودرا ازدست میدادند ، مسند نشیني خلف اورامبداء تاریخ قرارمیدادند ولي این پیشنهاد مورد قبول واقع نشد ، بعضي پیش نهاد کردند تامطابق تاریخ مروج روم ، تاریخ اسلام رابنویسند این پیشنهاد نیز طرفداري نداشت ، عده ګفتند ، مولد رسول الله صلي الله علیه وسلم رامبداء تاریخ قرارمي دهیم وبعض طرفدارمبداء قراردادن بعثت رسول الله (ص) بودند
وعده دیګرګفتند هجرت باید آغازتاریخ مسلمانان قرارګیرد حضرت عمر (رض) ازین پیشنهاد استقبال کردوفرمود که هجرت حق را ازباطل جدا ګردانید همه حضار بیك صدا ویك آوازبه اتفاق آراء پذیرفتند که هجرت آغازتاریخ مسلمین شناخته شود سپس به تبادل افکار پرداختند که ازکدام ماه سنه هجري را آغازکنیم عده ماه رمضان راکه درآن قرآن مجید نازل شده پیشنهاد کردند وتعدادي ماه ربیع الاول راکه پیغمبر (ص) هجرت خودرا ازمکه بمدینه درآن ماه آغازکرده بود اماحضرت عمر (رض) وحضرت عثمان (رض) وحضرت علي (رض) ماه محرم راپسندیدند زیرااین ماه بعد ازذي الحجه که مسلمانان درآن به اداي حج خانه کعبه مي پردازند وماهي است که درآن انصار بارسول الله (ص) بیعت کرده اند وتصمیم به هجرت ګرفته شده است پس آغازسال دراسلام اول ماه محرم شناخته شد . جاي تاسف وتأثردراینجاست که مسلمانان ازین تاریخ عدول کرده ازتاریخ میلادي استفاده میکنندکه بادین شان هیچ رابطه ندارد
واګرعده ازدول اسلامي تحت استعمار نصاري مجبور ومضطربودند تاتاریخ اسلامي خودرا فراموش کنند ولي حالا عذري باقي نمانده وکشور هاي اسلامي آزادشده اند وبراي اعمال تاریخ میلادي جاي باقي نمانده چنانچه صحابه کرام تاریخ فارس وروم رانیزمکروه پنداشتند سال قمري از نظراسلام دوازده ماه مي باشد چنانچه خداوند (ج) فرموده است . " هرآئینه تعداد ماه ها درکتاب خدا ازبدو خلقت آسمانها وزمین دوازده ماه بوده چهارآن ماهاي حرام است " این ماه ها وقت وزمان تمام جهان رامشخص میکند ودرجاي دیګر خداوند مي فرماید " اي پیامبر ګرامي ازتودرمورد تغیرشکل ماه ها وفائده آن مي پرسند بګواین ماه ها وقت وزمان رابراي مردم تعیین میدارد " این ماه ها بدون تبعیض وتفریق درحصه عرب وعجم مجال تطبیق دارد زیرا علائم آن محسوس بوده هرکس آنرابطلوع ماه جدید درك مینماید درحالیکه ماه هاي میلادي همه بروي تخمین وحدس وګمان بنایافته وماه هاي غیرثابت مي باشد بعض ماه ها سي روزوبعضي دیګر ۲۸ روز ګرفته مي شود وعلت حقیقي این تفاوت تاحال معلوم نشده است ګرچه بسیار سعي وتلاش ګردیده تااین ماه هارا تغیرداده وآنهارا ثابت بګردانند چنانچه درین مورد پلانهاي طرح شده است اماکلیسا مداخله میکند نمي ګذارد که این ماه ها دست بخورد زیرا آنها ازین تغیر احساس خطروناراحتي مینمایند .
وقتي درصدد مطالعه وتدقیق اهداف ومنافع ماه هاي قمري برمي آئیم به این نتیجه میرسیم که استفاده ازماه هاي قمري جزء لاینفك امور دیني واسلامي ماپوده ولي مامسلمانان این اصل رافراموش کرده ایم وحتي ماه هاي قمري که امورتعبدي مابه آنها ارتباط وبستګي مستقیم دارد به طاق نسیان ګذاشته ایم ودرعوض درماه هاي میلادي وتقویم هجري شمسي که ازطرف صحابه یکلي مردود شمرده شده است عملي میکنیم وچون سنه شمسي اصالت شرعي واسلامي ندارد باید از تاریخ کشورما زدوده شود بدرجه دوم قرارګیرد وبه ماه هاي قمري بدرجه اول اهمیت داده شود زیراماتني ندارد بګوئیم .
۱۲ ربیع الاول ۱٤۱۰ هـ مطابق ۱۱ میزان ۱۳٦۹ هـ ش - ۳ - ۱۰ - ۱۹۹۰ م چون ملاك واساس ، ماه هاي قمري است باید درصدراول جاداده شود . وحساب وکتاب امورجهادي به ماه هاي قمري کاربسیارساده وآسان است درغیرآن مردم مابه این مشکل مواجه مي شوند که همیشه یکي ازدیګري مي پرسند، ماه رمضان چه وقت نومي شود، ومراسم حج درکدام ماه ها اجرامي ګردد ، عیدین درکدام ماه ها واقع مي شود وازین قبیل مسایل دیګر ودرین مورد مرحوم عباس محمود العقاد عضو مجلس سناي مصر نظرواندیشه مهمي دارد . وي عمل نکردن به ماه هاي قمري را نوعي ازانحراف ازخط اسلامي مي داند ازعلماي کرام آرزومندم درمورد اهمیت ماه هاي قمري وارزش آن ازدیدګاه اسلام مردم را آګاه نمایند وتنظیم هاي جهادي راقانع بسازند تاتاریخ خودرابه ماه هاي قمري هم آهنګ نمایند زیراهمین علماي کرام اندکه وظیفه دارند حقایق دیني رابمردم خود برسانند همانطوریکه متذکرشدیم تقلید ازغرب درامورعقیدتي وعباداتي یك ګناه عظیم وتابخشودني است وهیچ ګاهي اسلام اجازه نمیدهد که مسلمانان درامورااخلاق ، حقوق ، قضا وسایر ارزش هاي معنوي که لله الحمد اسلام ازآن غني وپرمایه است ازغرب تقلید نمایدویامخالف دساتیر اسلامي عمل نمایند ویکي ازمظاهراین نابسامانی بکاربردن ماه هاي میلادي است که با تعالیم اسلامي ناهمګوني واضح وروشن دارد وباید درپرتواین جهاد مقدس دستخوش تغیرګردد .

تراوسه هلته غداران وواوس دلته

غلام حضرت شاکر

زه له مریضي څخه ډیر په عذاب شوم ګولي مولي مي ډیري و خوړي دنصرت مینې په شخصي کلینیکونو کي مي هم ځه تداوي و کړه خونه یوازي ښه نه شوم لاچه تکلیف مي لازیات شو له ځانه سره مي فکرو کړ راځه دعمرشهید روغتون ته به ورشم یوځوبه دډاکترله فیس څخه خلاص شم اوبل ځه به دارودرمل هم مجاني راته راکړي ځکه زما اقتصاددومره کمزوري وو چې نه مي دشخصي ډاکتردفیس استطاعت لاره اونه ددوادرملو یوبل چادودي ډاکترانو توصیف راته کړي و چې مجاهدډاکتران دي کیداي شي ښه معاینه دي و کړي اوموثره دوادرکړي دماپښین په وخت شفاخانې ته ورغلم دډاکتر اتو تپوس مي و کړ یو ورور په ښه خوږه لهجه راته وویل : صیب ! دنوکریوال خونې ته مراجعه وکړه هلته ډاکترصیب ناست دي اولدي سره یې دنوکریوال خونه هم راوښوده . دنوکریوال خونې ته ورننوتم که څه هم ډاکترصاحب ویده وو خوچه ددروازې ګړب یې ترغوږ شو راویښ شو سترګي یې و مږ ښلي اوپه سلام علیکم یې مخاطب کړم وبل خیریت ده ؟ ماورته دخپلي ناروغي ځرګندونه وکړه . ډاکترصاحب آله فشاروالواخسته وطب داصولو سره سم یې زمامعاینه وکړه اوواوږي راکړ چه انشاء الله ښه به شي یوه نسخه دوایي راته ولیکله اوهم یې لابراتوار ته راجع کړم چه هلته دوینې معاینه و کړم ماهغه دده لیکلي پرزه چه دلابراتوار ډاکترانې یکي هدایت لیکلي وو راسره واخسته اوتیغ دلابراتوار خونې ته و دریدم دوره دوب ډب څخه وروسته یوخام‌څمره ځوان چې نوي یې مات تورشوي و له یوې بلې خونې راو ووت ویښتان یې یوي بلې خواته اړولي و داسي ښکاریده لکه چې دهجرت محیطه ته نوی راغلي وي اودمهاجرینوسره په خوي یوي نوي پوه ماورته له سلام نه وروسته دډاکترصیب پرزه و نیوله پرزه یې واخسته اوسریي وچورلاوو ګونځې ګونځې وچولي یې دغوسي اوقهرښکارندویي وه داسي معلومیده لکه چې ویده وو اوزماددروازي ډب ډب راپاڅاوه دلابراتوارخونې ته ننوتوځه وینه یې راڅخه واخسته اوپه انتظارکې کینولم . پنځه شپږدقیقې به لاتې وي تیرې چې یوبوداسپین ګیري پوه غالبا دري کلنه ماشومه راپه شاکړي وه دلابراتوارخونې وره ته یې له اوږي راښکته کړه دستوماني اوږده ساړي وښکه بیايي له ماڅخه پوښتنه وکړه : لابراتوارخوبه دغه وي ؟ ماویل هو .
بوډادروازه وډبوله په خونه ورننوت ډاکترصاحب چه مخکي لاډیرپه غوسه وو په سپین ګیري یې سترګي رابرګي کړي داسي اپلتي یې وویلې چې قلم یې له لیکلوحیاکوي، بوډاهك حیران و دریدماشومه نجلي خوبو دوه ګامه دباندي راووته سپین ګیري چې بوسوړاسویلي و بوست وبل ډاکترصیب ! زه اودغه لمسي مي دواړه مریضان یو ډاکترصیب دلته راو لیږلو دغه ده پرزه یې هم راسره ده . ډاکترصاحب بیاورته په تنده لهجه وویل : بروبروتمام ریښخن ... تمام ریښخن ...
زه چې دډاکترصاحب دډاکتري دتعامل اودانساني برخورد پرمغابروځرګندونو اریان دریان شوم له ډاکترصیب څخه مي وپوښتل صیب ! ته دکوم ځاي یې ؟ ډاکترصیب چه له سپین ګیري سره په اپلتویسنه ونکړه ویل :
چې مي کني که پرسان مره مي کني ؟ مي خایې مره بندي کني بروددست خلاص ماازآزره استم ازلوګر . ماچه ځواب ته خوله جوړوله سپین ګیري مي خبره راغوځه کړه ویل دادغه توي راغلي ځوانان دي داسکرپیست ورته وایي که څه بلا ورته وایي، ګرم ندي ته یې دجهاد سنګرلیدلي اونه دهجرت کړاوونه ، تراوسه هلته غداران وو اواوس دلته .

حضرت علي «رض»مي فرمایند

- پشیماني ازګناه ، ګناه رانابود میسازد اما غرور درنیکي ، نیکي رابرباد میګرداند .
- اندکي قبل ازسیرشدن ازخوردن غذادست بردارید .
- علم ګم شده اي مومن است هرجادریافتید بګیرید .
- آفات دربطن زمانه پوشیده است .
- به حال ووضعیت دیګران توجه نمودن بهترین اندرزاست .
- نظرپیران ازقوت وزور جوانان بهتراست .
- اندازه ایمان هرکس باپیمانه وفاداري بروعده اش تعین میګردد .
- درمصاف داخل شدن آسان ولي بیرون آمدن مشکل است .
- عالم آنست که برعلم عمل نماید .
- بزرګترین غربت جهالت است .

حضرت امام حسن (رض) میفرمایند :
- خلق نیکو درده چیزپوشیده است :
- صداقت درګفتار ، اداي حقوق بندګان خدا، عوض دادن احسان ، بخشش به سائل ، صله رحم ، مهمان نوازي، شدت ستیزه علیه باطل، حفظ وحراست همسایه وازهمه بالاتر شرم وحیا است .
- سه چیز است که باعث تباهي انسان میشود : حسد، حرص و تکبر
- عابد آنیست که برتقسیم خداي تعالي راضي باشد .
- پوشیدن عیب ونګهداري آبرو، درخاموشي است .

ازچهارگوشه جهان

ابن سیناکي بود ؟

ابن سیناکه تقریب پنجصد جلدکتاب ورساله ازخودبه یادګارګذاشته است درسوم صفر ۳۷۰ ه ق دررقشنه بخاراپابه عرصه هستي ګذاشت .
ابن سینا ازطفولیت هوش سرشاري داشت ، چنانکه درطفلي شروع به آموختن ریاضیات درنزد بقال محل نمودوفقه راازاسماعیل زاهد یادګرفت ، سپس ابوعبدالله ناتلي به اومنطق وهندسه ونجوم آموخت وابن سینابه آساني به مسایل اقلیدس آشناګردیدوطبیعیات وماوراالطبیعه رابه کوشش خود فراګرفت وآنګاه شروع به یادګرفتن علم طب درنزدابو منصور حسن بن نوح نمود ودرعرض مدتي کوتا آنرابخوبي فراګرفت، بطوریکه درهفده سالګي بیماري نوح بن منصورساماني درمعالجه کردوازمقربان پادشاه ګردید .
درباره فلسفه ابن سینا " هونګ " دانشمندمعروف ګوید فلسفه ابن سینا مبتني برحکمت مشاء است ودرتمام آن آثارجدیت اسلوب آشکاروهویداست ،بوعلي سیناسعي دارد شعب مختلفه اي علوم فلسفه رادرسلسله محکم واستوارمقیدکند وروابط ضروري آن هارا به یکدیګرنشان دهد .بو علي سینا در کتاب شفا علوم را سه بخش نموده است
۱ - علم اعلي (مابعدالطبیعه)
۲ - علم ادني (طبیعیات)
۳ - علم اوسط (ریاضیات)
دراین تقسیم آزارسطو پیروي کرده وبرخلاف پیشواي خویش درهمه جاصراحت بیان وروشني اداء دیده میشود درصورتیکه ارسطو دراین مباحث مبهم ومغلق سخن میراند .
ابن سینا باآنکه اصول فلسفه خویش را میخواهد با متکلمین اسلامي وفق دهد درباب قدامت عالم با فلاسفه موافق است وهم چنین علم باري عالي رابه امورکلیه متعلق میشمارد وعلم براموزجزئیه رابه نفوس فلکیه نسبت مي کند، مسئله روح در فلسفه بوعلي داراي دقت خاص است که ارواح بشري باقي است وهم بوجود وحي ایمان دارد و میګوید : مابین روح آدمي وعقل اول رابطه اي طبیعي است ، بي آنکه به عقل مکتسب محتاج باشد ، بااینهمه باید ګفت که ابن سینا مجموع عقاید فلسفي خویش را بااصول اسلامي تلفیق نداده است وازاین روست که غزالي کتاب تهافت الفلاسفه را دررد اونوشته است .

حکیمانه خبري اوغوره نصیحتونه :

۱- په ښوخویونوکي بهترهغه دي چې قرآنکریم کي راغلي وي
۲- ډیرمعززهغه څوك دي چې درښتیا اوسوالي له پاره زیاریاسي
۳- ښه سړي دمسلمانانو په خوشحالي خوښ په خپګان یې خپه کیږي .
حضرت ابوبکر صدیق «رض»
٤- څرنګه چې په قرآن شریف کي لوي لوي حکمتونه شته نودخلکو له پاره اول دقرآن شریف زده کړه ضروري ده .
۵ - هغه څوك چې له شریعت څخه ادب زده نکړي له بل هیڅ شي څخه یې نشي زده کولي .
٦- پوهان باید دخپلي پوهې څخه دمسلمانانو په اصلاح اواتفاق کي کاروا خلي نه دفتني اواختلاف له پاره .
۷- پیاوړتیا او پوخوالي دادي چې سړي خپل کارپه خپل وخت وکړي .
۸- هغه کسان چې لورحمت نه لري هیڅکله به لوي نشي .
۹- لومړي فکرکول پکاردي اوبیا وروسته په کارپیل کول .
۱۰- هسي ریښتیني دوستان ومومي چې په ښه ورځ مجلس بري ښایسته وي اوپه سخته ورځ ملاتړي وترل شي .
حضرت عمر فاروق «رض»
۱۱ - دخداي (ج) مرسته له خپلو بندګانو سره دهغوي داخلاص او صداقت په اندازه ده .
۱۲- دهغه چاچي دخداي (ج) ویره په زړه کي وي هغه له هیچاڅخه نه ویریږي .
۱۳- هغه څوك چې ځان ښېګ کړي اوپرسمه لاره لاړشي ډیرهوښیاردي .
حضرت عثمان (رض)
۱٤- هوښیارسړي دډیري وینا له پاره نه بلکي دډیرکار له پاره زیاته هڅه کوي .
۱۵- هغه څوك چې صاف زړه اونبه خوي ونلري دانسانیت درجې ته نه: رسیږي
۱٦- هوښیارله هرڅه نه مخکي خپل عیبونه لټوي اوپه اصلاح کي یې کوښښ کوي .
۱۷- غم اوناامیدي دبیکاره خلکوصفتونه دي .
۱۸- دسړي قدر دهغه دعلم اوادب په اندازه کول پکاردي نه ددولت اونسب په اعتبار.
۱۹- له هغه تلاوت چې یې فکره کیږي اوپه هغه عبادت کي چې په غفلت اجراکیږي اوپه هغه علم کي چې یې فهمه زده کړي شي هیڅ خیراوبرکت نشته
حضرت علي کرم الله وجهه
۲۰ - بې عقله سړي ادب اوبې دینه سړي انصاف نلري
(حضرت حسن «رض»)
۲۱ - دنیك خوبه خلکو خبري خوږي اوپخپله مینه ناك وي .
(حضرت عبدالله بن عمر«رض»)
۲۲- ستاسوله ټولو څخه لوي دښمن ستاسو خراب ملګري دي .
۲۳ - مه چاته په سپکه سترګه ګوري اومه چاپوري خنداکوي .
۲٤- ریښتیا اوصداقت دژوند اساس وګرځوي .
(عبدالقادرجیلاني «رح»)
۲۵ - دعلم په حاصلولو اوزده کړه کي ډیر کوښښ وکړي چې نیکمرغه شي .
۲٦ - څه چې مونه وي زده په پوښتنه ئې مه شرمیږي ولي هرڅوك چې په پوښتنه کي شرم کوي ناپوهه پاتي کیږي .

وقت طلائي

څارنوال (براي دزد) : زیورات راچرا دزدي نمودي ؟
دزد : محترم براي اینکه ساعت دوازده شب ازنزدیك آن دکان مي ګذشتم دیدم دربالاي دروازه اش نوشته بودکه این وقت طلایي رااز دست ندهیدکه دیګرمیسرنخواهدشد .

خویشاوندي :

کسي ازیك نفر سرمایدار پرسید : وقتي شماغریب بودید خویشاوندان تان شمارایاري میدادند که امروز دریاري دهي بهم پیشي میګیرند .
سرمایدار جواب داد : نه ، وقتي من غریب بودم خویشاوندي نداشتم .

بیشترین طلاق

درطي سه سال ګذشته به تعداد (۳۹٤...) زن امریکایي بصورت رسمي ازشوهران خود طلاق ګرفته‌اند تعداد کسانیکه بدون مراجعه به محاکم عدلي طلاق داده شده اند بیشتر ازاین ارقام است .

شبرزاد

مجاهدته خطاب

سوربیرغ شولو راکښته سور کمون دي کړونسکور
آفرین دي په میړانه داوستادمتوزوور
ملتونه دي آزاد کړه دکمون له اسارته
نجات بیاموندده محکومو دحاکم له شرارته
بشریت ترینه بیزاره چه غوښته ئي وودي کور
آفرین دي په میړانه داوستادمتوزوور
ټولو واخیسته الهام دآزادي ستاله میړانې
امیدونه ټول غوټي وه ئن ئي پرانستلي پاڼي
تاپه تش لاس باندي مات کړو دروسانو چکش لور
آفرین دي په میړانه داوستادمتوزوور
اولسونه دي راخلاص کړه دقطبي خرس له پنجونه
ټول جهان ته دي رسوا کړه چي وشاته دپردونه
جهاني خونخوارته جوړکړو تادخپله لاسه گور
آفرین دي په میړانه داوستادمتوزوور
طاغوتي طاقت نورمات دي سرټي ټیټ شولو تسلیم
مغزخرابه په هرځاي کي عقل نلري سلیم
وارخطادي نن چي نه پیژني خپل پردي په کور
آفرین دي په میړانه داوستادمتوزوور
تاشلم قرن کي پرانسته تاریخ ته نوي باب
تم کیداي شي کله خس خاشاك ومخ ته دسیلاب
ټول امواج دي طوفاني شوه دکرېلین دپاسه شور
آفرین دي په میړانه داوستادمتوزوور
اوس په دومره عظمت کي تاته کاندي ننواتي
نوردتوري میدان ستادي آخرنشي درنه پاتي
گیلم جم په روسي اخلي رب په سترگو کړوشیکور
آفرین دي په میړانه داوستادمتوزوور
تادسرپه بیه واخیسته اسلام، عزت وقار
خوارزبون اوشرمنده شوئ‌یوالوته مکار
دظالم په سر گوزاردمظلوموشوي غمخور
آفرین دي په میړانه داوستادمتوزوور
اي " شبرزاده " کړه دوعاچي مجاهد په الحادشي
نوسرماتي غابن وتلي به په هرځاي کي الحادشي
روس که وخوړله ماتي امریکابه شي مخ تور
آفرین دي په میړانه داوستادمتوزوور

طنز

ننگیار

هوصیب ! نه صیب !

ځیني دوستان راته وایي چي " نیك خوي " صیب ! داته څنگه دومره ژر،دومره لوړځاي ته ورسیدي اوپه داکمه موده کي دزیات قدرت څښتن شوي " یونیم آشناخوله تمسخره وایي چي البته دا به ستاسو دلیاقت نتیجه وي نوا

خیر ! خلك چي هر څه وایي اوهرڅه یي گڼي ، دوي پوه شه اوکاریي ، ولي چي دخلکو خولي بندول هم څه آسانه کار نه دي . خوکه ربښتیا ووایم اودا دتولو له زړونو نه شکوك وپاسم نوزما دودمره ژرلوړیدو اوقدرت ته رسیدو اساسي علت دهغه فورمول په کار ووړل دي ، کوم چي زما مهربان پلار راته په وړکتوب کي ښودلي ؤ اودا تاکیدیي راباندي کړي ؤ چي زویه ! دازمانصیحت اوختي وصیت دي که دي عمل پري وکړنوبیا به کله هم بده ورځ ونه وینې .

هغه به ویل چي دکلي ملك صیب ته زمادگرانیدو اونیزدي کیدو یوالحیني علت همدغه دي اوبیا به یي زیاته کړه چي هاغه " پردیس " علاقه دار له همدغې وجي نه ځوځله علاقه داري ته وروغوښتم اود کلي حال ، احوال یي را نه وپوښتیده ځکه هغه چي ملك صیب میلمه کړي ؤ اوزه یي هم ورغوښتي وم ، نوهلته له علاقه دار سره په خبرو کي مي همدا چال په کاریووړ .

پلارمرحوم به مي ویل چي دا زموږټول خلك همدا یوځانگړي خوي لري چي بآيد خبره یي وونه گرځول شي . که سه وي اوکه بده باید فوراً تائید شي خبره ورگرځول یي بله نتیجه نلري یي له دي چي عقده یي درسره پیداشي اوزړه یي درنه بدشي .

همدارنگه هغه به ویل چي زموږ دکلي " بادري " له همدي کبله دخلکو بدي اسیده اوټولوتري گرکه گوله اونوم یي له (بادرخان) نه په بادري " بدل شو .بس همدا یو بدخاصیت یې درلوده چي دهرچا په خبره کي به ورلویده او وروسره تاووله به یي . پدغه عادت خویي څوځله وهل اوبوکال بندیخانه هم تیره کړه ، ولي چي له ملك صیب سره یي خبره تاوکړي وه ځکه چي ملك ویلي ؤ داسي ده اوهغه یي په مقابل کي ویلي ؤ چي نه ! داسي نه ده .هروخت به یي وي چي زویه‌ارمان

دا دي چي دوه یکیه سبق مي نه دي لوستي - کنه تابه بیاالیدلي وم چي کوم ځاي ته رسیدم .

ربښتیایي ویل ، دیخواني زماني سړي ؤ اودهغه وخت خلك خو که نالوستي هم وو خوهوښیار وواوتجربه یي درلوده . داچي اوس ځوك نه پسي گرځي خپله گناه یي ده .

اوس نو که دروغژن نه شم زما دتولو نیکمرغیو اوکامیابیویواځیني علت دخپل نالوستي ولي تجربه کار پلار په همدغه بوه نصیحت عمل کول دي اوهغه داچي ځوك ووايي داسي ده ، فوراً ورته ووایم : هوصیب ! اوکه یي وویل چي داسي نه ده نوفوراً ورته ووایم نه صیب ! بس دهمدغه "هوصیب !" او" نه صیب !" له برکته دي ځاي ته راورسیدم اوشك مه کوي چي نوریه هم پورته لاړشم . خیر که یي تاسو په چاپلوسي هم تعبیرکړي کولاي شي خوزه یي هوښیار تیاگڼم.

باوروکړي چي نورهیڅ جادو اومنتر مي نه دي کړي اویوهه خومي له چا پټه نه ده چي هغه دچاخبره ددووخبرواوریشي هم سمي نشم بیلولاي . بس چي رئیس صیب ووي داکار یادغه مسئله داسي ده، ،ورته ووایم هوصیب ! باالکل همداسي ده تاسو ډیر ښه پوهیږي اوکه یي وویل .

چي دا کاریادغه مسئله داسي نه ده نو ورته ووایم : نه ! نه! صیب ربښتیا هم داسي نه ده (زموږ دخلکو خاصیت دي چي باید خبره یي تائیدشي او سروورسره وخوځول شي . نواوس که ځوك لوړه ځوکي ، آرامه ژوند ،قدراوعزت ،نوم اودولت غواړي بس زمادمرحوم اونالوستي پلار په دغه بوه واړه نصیحت دي عمل وکړي اوهغه داچي تل دي له ځانه دغټ سړي خبره وورسره په " هوصیب ! " او" نه صیب !" تائیدکړي اوسردي ورسره وخوځوي. بیا به ئوځیله وگوري چي په لږه موده کي چیرته رسیدلي .

خو گوري ! که چیري همداسي موږکړل اونتیجه یي هم مثبته راووته ،غاړه موینده که به مي مرحوم پلار په دعا کي هیروي . ولي چي داسي لوروځایوته درسیدلو ډیره لنډه اواسانه لاریي مونزاوتاسو ته ښودلي ده . خداي (ج)دوبښي.

سرنوشت

استاد آئینه

یك تارازرباب حزین نوان گسست
سازطرب چوموج سخن برزبان گسست
دل بیصداشکست درین سنگبارغم
دلدارنیز ازمن آزرده جان گسست
مرگ امیدوعمرتهي ماندوحسرتي
تاچند داغ یادکه این بست وآن گسست
آن رشته اي که بود، دوسرمحکم ایدریغ
بخت سیاه بین که چوموازمیان گسست
تکرارتلخ فاجعه آدمي شمار
آسودگي نهضت رخ وازجهان گسست
طفل ازکنارمادر وخواهربرون فتاد
وزترس دام مرغ چمن زاپشان گسست
بي عشقي وسکوت ودم سردروزگار
ازمابه عشوه رشته آن مهربان گسست
تیردعارهانشده ، برهدف شکست
تاگوش ناکشیده زه این کمان گسست
پیوند هابریده وپیمان بپاي رفت
موئي به تیغ بسته گره ازمیان گسست
بي مهردوست روي شناسي ماغاید
تارنظر ز" آئینه " هم گلرخان گسست

شلخي انډیوالان

محمدظریف نقشبند

نه جوړېږم په قالب دزمانه کي
گټه نشته دېګي په یارانه کي
مخامخ به درته غیزدرکړي په مینه
روسته شاته دي چاړه وهي سینه کي
په ظاهر به ددوستي لاس په سینه زدي
پټ په زړه کي وي مدام درته کینه کي
په راحت کي به تحفه دسروماله کړي
په زحمت کي واني څه نشته خزانه کي
آشنایان ټول دمطلب صداقت نشته
چه مطلب نه وي بیادي گیله مانه کي
سپین لباس دبزرگي به وي په غاړه
دعمل نه به وي تش په پیمانه کي
مداحي اوتملوق به درته کاندي
ستاعزت به خرڅوي قصه خوانه کي
سپکي سپوري به مدام دریسي واني
هرڅوك گوري دخپل ځان په آئینه کي
خپل درنښت به دبل وروروسپکه کي گوري
خپل ځان پټ کړي دریاپه پښمنه کي
دوېران په شان به ډك وي دعیبونو
بیاخبري کړي دبل په خپل خانه کي
ډیر افسوس په دي دوه مخواشنایانو
دشیطان سره پراته په زولنه کي
چه اصیل انډیوال نه وي شلخي ورك شه
نقشبندضرب کړي نوردصفریه خانه کي

آیت ظفر

حیات الله " حیات "

مگو براي دل من دیگرحکایت شب
که رفته شام سیاه ودمیده شد سحرم
دریده ظلمت یأس ازهجوم نورامید
جمال پرتوصبحي ، رسیده درنظرم
به گاه شب برسد لشکرسپیده صبح
حصول اوج غروراست ورسم بهروزي
به خون ماست رقم برگ برگ این تاریخ
خداي را که ازین همت است پیروزي
اگرکه سنگرما گرمجوش لاله نبود
چه گونه دیوسیه راتودر بدربیني
کنون درچمن وباغ جوش پیروزیست
به زره زره خاك آیت ظفربیني
ببین زفیض جهادت قیام مردم "ترك "
نگر که چون شکند دژهاي استبداد
درون سینه آن " انقلاب نابرگشت "!!
چسان به گوش رسد هابهاي ازبرباد

پیام عدل

طارق

زمانه باردگر جوش عاشقانه گرفت
مسیرنورفضاي ستم نشانه گرفت
پیام عدل به عالم رساند خون شهید
فتاد لرزه براندام زردوسرخ وسپید
صداي قافله شرك ازطنین افتاد
بت بزرگ کمونیزم برزمین افتاد
اگرزجورهزاران جوان ماکشتند
چوگرگ وحشي اگرخون کشته راخوردند
وگر به شعله کشیدند باغ وبلبل را
وگرنرسته بریدند شاخه گل را
ببین که خانه ظالم چگونه ویران شد
ببین که کاخ ستم واژگون زافغان شد
مجاهد ازته کهسارقدکشیده کنون
چوخور زچشمه امید سرکشیده کنون
پیام تازه به این عصر خیره آوردند
دم سپیده به این شام تیره آوردند
بیاکه آخرشب دامن سحردارد
هلاکه دزدشب ازحال ماخبردارد
دل سیاه "سیا " ازسپیده میترسد
شب از تلالو صبح رسیده میترسد
بیابه جاده توحید همسفرباشیم
زمکروحیله بیگانگان خبرباشیم
که باز فاسد بگذشته رهنمانشود
وطن به داغ چهل ساله مبتلا نشود

انسان له غلامي ژغورم

محمدکریم "رحیمي"

په هرنوم مي که ونومي معلومه په جهان یم
حق تسلیمول غواړم ، دحقي لارپاسبان یم
ماپه امتحان کي نړیوالوته ثابته کړه
نه ماده پرست یم نه تابع دبل انسان یم
ځکه دښمنان مي بنیادگریا افراطي بولي
حق مي پیژندلي دي دښمن دهرشیطان یم
زه دخداي (ج) قانون غواړم انسان له غلامي ژغورم
لویي قرباني سره په دغه لارروان یم
سترزبرځواکونوچي نړي بي تقسیم کړي وه
زه یي دشکست اوبربادي عامل په ځان یم
زماپه هلوځلو شوروي نقشه کي ختم شو
لوي خاوند مي مل دي دزورگیروپه تاوان یم
داجهان تقسیم دي اوس په دوو مفکورو باندي
ودریزه میدان کي نوبیا وایه مسلمان یم
مرگ دشهادت د(رحیمي) لویه آرزوبوله
تل په ټینگ ایمان سره ولاړمرد میدان یم

به اقتفاي خواجه شیراز

محمدامان " فارغي "

جلوه مشتاق لقایت نظري نیست که نیست
حیرت آباد جمالت بصري نیست که نیست
جوشش عشق تودربحروبري نیست که نیست
آتش شوق تودرخشك وتري نیست که نیست
گرچه سرهاهمه درراه تورفتند به باد
خاك درگاه توبي یادسري نیست که نیست
نه من ازتیغ جفاي تودل افگارم وبس
زخمي تیرنگاهت جگري نیست که نیست
نه همین سروبود پاي بگل ازخجلت
منفعل پیش قداوشجري نیست که نیست
تومپندار که شوقت بدلم نیست که هست
ذوق پابوسي خوبان بسري نیست که نیست
لاله رادل زغم اوسوخته باشد چه عجب
زآتش شوق توبریان جگري نیست که نیست
صبح رابرسرمن شام کند سودایش
گله ام ازسرزلفت سحري نیست که نیست
آخراي شاهد دنیا توچه بي عرضه کسي
پیکرچاق توبیش لدري نیست که نیست
رشوه خوررنجه کندپنجه حق بازویت
رنجه ازپنجه تو رنجبري نیست که نیست
ایکه برموتر پیکاردسواري بنگر
کزتوآغشته به گل رهگذري نیست که نیست
مصلحت نیست بگرداب بلازورق راند
ورنه درقلزم طبعم گهري نیست که نیست
باغباني که دهد پرورشم نیست دریغ
ورنه درباغ خیالم ثمري نیست که نیست
فارغي بخت بدازیارتراکرده جدا
سرخوش ازدورنگاهش دگري نیست که نیست

ظاهرشاه ته

محمدسرور" قیام"

رټل شوي بي وقاردي ظاهرشاه
اوس دملك ځیني فراردي ظاهرشاه
دملت ټول اعتماد ورته سلب شوي
نیمه لارکي راایساردي ظاهرشاه
"ختمي يي دوطن" الا والا کړه
دادپلارپه شان لرقاردي ظاهرشاه
غم ددین اودملت ورسره نشته
لوي خائن ، اوهم غداردي ظاهرشاه
علماء یي کړل توهین پل خښتي کي
پریښي مونږته دایادگاردي ظاهرشاه
کله کله وي یي خوده په نیشوکي
په شرابو مست خماردي ظاهرشاه
کړه یي دغرب دغلامي حلقه په غاړه
دغربیانو خدمتگاردي ظاهرشاه
دملت دتباهي عامل همدادي
ملوث، جنایتکاردي ظاهرشاه
دبارلس کاله کړاوونه په مونږ تیرشول
ناست سیل بین په شان کراردي ظاهرشاه
بیا درباراوسلطنت په خوب کي ویني
دکابل په انتظاردي ظاهرشاه
غواړي بیا چي دافغان ولس راښکیل کړي
دعیاشو خلکو یاردي ظاهرشاه
دجهاد اودجگړي نه کوي کرکه
سیاسي حل ته تیاردي ظاهرشاه
ټول ملت ورنه ناراض دي نه یي غواړي
چي فاسق دي هم ټگماردي ظاهرشاه
"قیام " وایي چي خبرشي افغانانو
دملحدوطرفدار دي ظاهرشاه

دردورنج

ن - نوري

بي حضورت اي گل نودربهارافسرده ام
کرده یادآن دوچشم پرخمار افسرده ام
درتمام زندگاني کس پرستارم نشد
من زطعن ومنت خویش وتبارافسرده ام
پیش اغیارم نمودي بي عزوبي آبرو
ابتداي عشق کردي اي نگارافسرده ام
شاهد مقصود م ازکف ناگهان دامن کشید
این زمان ازناله هاي بیقرار افسرده ام
سوختم ازدرد ورنج وحسرت وحرمان ، مکن
بیش ازین اي حضرت پروردگار افسرده ام
درگلستانیکه جایم بود پرپرشدگلشن
حال هرجامیروم ازنیش خارافسرده ام
کاروان بگذشت ومحمل رفت وآثارش نماند
میکند یادهمان گرد وغبارافسرده ام
درقفس افتاده ام فریاد وزاري مي کنم
بهرآزادي، عزیزان باربارافسرده ام
این غزل نوري براي آن کسي خوانم که گفت
(عمرغم آخرنشدازانتظار افسرده ام)

سوله

محمد عارف "رحیمي "

خرڅوي خپل عزت وقار په سوله
ساتي لستوڼي کي ته ماریه سوله
داسوله هیڅ رنځ ورك کولاي نشي
جوړ وي لوي تردي ناتاریه سوله
عزت ، شرف اوخپل ملت خرڅوي
اخلي ذلت خواري اوعار په سوله
ته روغ سړي ولي رنځورشوي ولي
چي اخلي ځان ته مرگ دداریه سوله
زما سترهوډ مسکو کرملین کړنسکور
ته راولي ملك ته کفاریه سوله
مادي نړي ته تحول راوستي
نه غواړم غاړه کي زناریه سوله
لوړجهادي آرمان په پام کي نیسه
چي وکړوټول بیا افتخاریه سوله
"رحیمي " وائي داسي خوب وینمه
چي به تجیب شي تاریه تاریه سوله

دپکتیاولایت دجهاد امیراوشهید جهاد وال دفرقي قوماندان انجنیر فیض محمد ...

دشنکي پوستي، دمجیب کلا، دعبدالله خان کلي دشیخانو قرارګا، دمارخوري پوستي، دجانه ګل کلا دغرویز دغرونو دسرپوستي چي دحاجیانو ترکلي پوري مجاهدین ورسیدل یعني دملین ، دوابي، شیخانو غوروزیري سیمه ددښمن څخه په بشپړه توګه پاکه شوه دعملیاتوله پیل څخه دوي ورځي وروسته دسترله کنډو څخه عملیات پیل شول چي دعملیاتو په پیل کي لومړي دبنوزیودغرونو پوستي کاملا فتح شوي اومجاهدینو خپل عملیات له هرلوري پیل کړل چي دشمال لخوا دتیري کنډو دښي اړخ ځني پوستي فتحه شوي اودعملیاتو په لړکي دسترکنډو مجاهدینو دبنوزیو دسیمي زیاتي پوستي دګردیز ترپله پوري فتحه کړي اودجنوب لویدیځلورته دسروري دغزه پوستي چي په ډېروحاکمونقطوکي پرتي وي دمجاهدینو په لاس فتحه شوي . لنډه داچي دګردیزعملیات تراوسه جریان لري دستیوکنډویه استقامت ګڼ مجاهدین په خپلو فتحه شویو مورچوکي قرارلري اوپه دښمن باندي خپلوعملیاتوته دوام ورکوي چي پدي استقامت کي دتولو جهادي تنظیمونومجاهدین برخه لري خود مجاهدینو لوي طاقت دمولوي جلال الدین " حقاني " دي اوهلته په عملیاتو کي فعاله ونډه لري .

دملین اولیوس په استقامت کي دحزب اسلامي مجاهدین پردښمن باندي خپلو کفرځپونکوګوزاروته ادامه ورکوي پدي استقامت کي بوازي زمونږ مجاهدین موجود دي دبل کوم تنظیم مجاهدین وجود نلري، دسیدکرم په خیتځ لورکي دټولو تنظیمونو مجاهدین قرارلري خواصلي قوت دشهید "رحیمي" دقرارګا مجاهدین تشکیلوي .

دشمال خواته دتولو تنظیمونومجاهدین برخه لري چي حزب اسلامي پکي فعاله ونډه لري البته پدي استقامت کي دحزب اسلامي داحد قرارګاه دحضرت عثمان (رض) قرارګاه اودکوچیانو دامام اعظم (رح) قرارګاه دلحاجیو مجاهدین اودشهید رحیمي قرارګاه قرارلري اودجنوب لویدیځ لورته دټولو تنظیمونو مجاهدین پراته دي چي پدي لورکي دپکتیکا دحزب اسلامي ټول مجاهدین دخالد فاروقي ترقوماندي لاندي ځاي په ځاي شوي اودزرمت اوروحاني بابا دقرارګامجاهدین ورسره یوځاي اویه عملیاتو کي فعاله برخه لري البته دستیوکنډو په استقامت کي دحزب اسلامي دالبدرقرارګاه ، دامام حسین (رض) قرارګاه ، دتېروك قرارګاه دامیرحمزه (رض) قرارګاه مجاهدین دنوروتنظیمونو سره ونډه لري .

دملین ، غوریزي اوسروتي په استقامت کي چي تنهادحزب اسلامي مجاهدین پراته دي چي دجهادوال قندمجاهدین، دحضرت عمرفاروق (رض) دقرارګاه مجاهدین ، دشهید اسدالله صالح قرارګاه دابوذرغفاري (رض) قرارګاه ، دشهید ضیاء الحق قرارګاه حضرت ابوبکرصدیق (رض) قرارګاه اودحضرت عباس (رض) دقرارګاه په ګډه فعالیت کوي لوي خداي (ج) ئي دي حافظ اوناصر شي البته دمجاهدینو دالویه قومانده زمونږیه غاړه ده .

انجنیر صاحب فیض محمد ددښمن دځاني اومالي تاوانونوپه باب داسي ووېل دلوي اوتوانا خداي په مرسته دښمن ته ډېر درانده مالي اوځاني تاوانونه رسیدلي دي دجنوب اوجنوب لویدیځ په استقامت کي ددښمن اول اودوهم کمربند بیخي مات شوي اوټول وسائل اووسائط ئي مجاهدینوپه ولجه نیولي زیات افراد ئي وژل شوي اوګڼ شمیر پلویان ئي ژوندي نیول شوي دي .

پدي استقامتونوکي ۹ عرادي زغرلرونکي ټانکونه فعال مجاهدینو نیولي اوفعلا په جنګ کي تري استفاده کیږي ددري بنوزیو غوریزي، ملین ، مجیب کلا دشیخانو قرارګاه، دغوریزي دسرتولي پوستي مجاهدینو فتحه کړي چي اکثریت پوستي اوس دمجاهدینو په لاس کي دي دشمال لورته دتیري کنډو په استقامت کي مجاهدینو ګڼ شمیر پوستي فتحه کړي چي دسختو واوروله امله ئي بیرته پري ایښي دي .

دجنوب لویدیځ په استقامت کي دسروري غره پوستي نیول شوي خودځینو ستونزو په وجه پریښودل شوي دي .

دګردیز پدي عملیاتوکي په زیاته اندازه دي‌ءسي، توپونه ، mm ۷۶توپونه ، دوه میله شلیکا ماشیندارزرهپوشونه ، غرني هاوانونه ، زیاته اندازه مهترونه ، کلاشنکوفونه اویه پوره اندازه نظامي مهمات مجاهدینو په ولجه نیولي .

پدي عملیاتوکي ددښمن دافرادي قوت دتلفاتو اندازه په بشپړه توګه نشي څرګندیداي خودمونږ په ډول ددوي تلفات دومره زیات دي چي دګردیز والي او دهغوي خاص ملګري هم پکي ووژل شول .

په ډېرتأسف سره ویلاي شم چي ددي عملیاتوپه لړکي به دمجاهدینو دشهیدانو شمیر (۲۰۰) کسو ته رسیدلي وي چي په هغي کي بوازي دحزب اسلامي ۶۰ کسه دشهادت لوړمقام ته رسیدلي دي .

روح یې دي ښاد اویادیې دي تل وي .

مجاهد وروور انجنیر فیض محمد زیاته کړه مجاهدینو زیاتي فتحي ترلاسه کړي اودښمن قوتونه دلویې ورخطائي سره مخامخ دي خودزیاتو واورو اویخني له کبله اوداچي مونږته په پوره اندازه مهمات هم ندي رسیدلي دمجاهدینو عملیات لږڅه ساړه شوي دي .

وروورفیض محمد ددښمن دقطعاتو په باب ووېل په ګردیز کي یوه فرقه چي دګردیز دقول اردو په نوم یادیږي موجوده ده دځارندویو قطعات ، قومي ملیشي، دخاد قطعات ، چي په رشید دوستم پوري اړه لري، دهرات ملیشه ، دهلمند دخاد قطعات اوسیدکیهان دملیشو دقطعاتو جز تامونه چي په پوره ډول ئي دافراد وشمیر راته معلوم ندي دغه قطعات ددهري دولت لخوا اکمال اودکابل لوګرله لاري دوي ته خوراکي مواد اونظامي مهمات را رسول کیږي خو بیا هم دافرادي قوت له کمبود سره مخامخ دي .

قوماندان صاحب ددي پوښتني په ځواب کي چي په ګردیزکي کوم جهادي تنظیمونه په عملیاتوکي برخه لري داسي ووېل :

دګردیز په عملیاتوکي په عمومي ډول ټولو جهادي تنظیمونو برخه اخستي خوداکثریت په لحاظ ویلاي شم چي دحزب اسلامي اومولوي جلال الدین حقاني " مجاهدین دټولو تنظیمویه پرتله زیات دي اویه اول قطارکي راځي اونورهم دخپل توان اوقوت په اندازه پکي برخه اخلي .

وروورفیض محمد وروستي فتحه دمجاهدینو ویلله وېي ویل زه پدي باوري یم چي انشاء الله وروستي فتحه به دمجاهدینو پهبرخه وي نجیب دزوال په لور روان دي، دنجیب په پوځ کي زیاتي ستونزي رامېنځته شوي، دپوځ په داخل کي زیات اختلافات موجوددي اکثریت ښاروته ئي دمجاهدینو لخوا کلابند شوي ورځ په ورځ ئي لوي اوغټ اهداف دمجاهدینو له خوا فتحه کیږي له بلي خواپه روسیه کي دکمونیزم ماتي دري وري شوه دوي چي دکوم آرمان لپاره په جنګ کي اخته و، هغه دکمونیزم مفکوره وه اوس دکمونیزم مفکوره دخاوروسره خاوري شوه اوس باید نجیب اودهغه باداران (روسیه) باید دخپلي آینده په باب غوراو څیرنه وکړي زه خودومره وایم چي که چیري مجاهدین خپلو مسئولیتونوته متوجه شي اوخپل جهادي قوتونه سره یوځاي کړي اوخپلو اختلافونو ته ترجیح ورنکړي په یوه زړه اویوه آواز خپل عملیات پیل کړي په ډېرکم وخت کي به نجیب ختم شي زه زیات امیدواریم چي دسږکال دپسرلي موسم دمجاهدینو دفتحي اوکامیابي موسم دي ، خولوي خداي (ج) د مجاهدینوته دالحاد اوپوالي توفیق ورکړي زمایوازني آرزوداده چي مجاهدین باید په خپلو کي سره متحدشي، خپل تنظیمي اونوروتعصباتوته دوام اواهمیت ورنه کړي چي خداي ناخواسته دغه اختلافات ددي سبب نشي چي زمونږ ددښمن دعمرداوږدوالي سبب وګرزي .

نولازمه ده چي ترټولواول خپل منځني اختلافات دشریعت محمدي په چوکاټ کي حل کړي ترڅو دښمن بالکل ختم اوتغرتي ورتول شي .

وروور حاجي فیض محمد دروانو سیاسي حالاتوپه باب خپل نظر داسي څرګند کړ، غربیانو خوداهم نه منله چي خوست به دمجاهدینو په لاس فتح شي هلته ئي هم په پوچو اوناروا تبلیغاتولاس پوري کړي وو خوکله ئي چي ولیدل چي دښمن دکاملي ناکامي سره مخامخ شو اوخوست دمجاهدینو په لاس فتحه شو نوبیائي خپلو پوچو تبلیغاتو ته جامه وربدله کړه چي ګویا دخوست ټول ښار وران شوي دولتي مالونه اودکلیوالو کورونه چورچپاول شوي دخلکو سره انساني وضعه نده شوي ، خواوس ټول وینې چي خوست دمجاهدینو له خوا اداره کیږي اوددښمن ټول تبلیغات پوچ اوبېځایه دي . په همدي ډول زه ټولو ته وادورکوم چي ددښمن په تبلیغاتو ونه غولیږي اوکومه اندیښنه ورته پیداشي ټولوخوست په خپلو سترګو ولیدله دخوست فتح وڅیتېږله ، اوئه دخوست مالونه چورچپاول شول بلکه اوس په هغو تعمیر ونوکي چي حکومت پروت وو اوس پکي ویاړلي مجاهدین حکومت کوي اوانشاء الله ګردیز به هم فتح کیږي ، ګردیز دفتحي په درشل کي دي هغه ورځ لیري نده چي په ګردیز کي دخوست په شان یومجاهدحکومت جوړشي، زه ټولو مجاهدینو ته اطمینان ورکوم چي په ګردیز کي دښمن مغلوب دي مجاهدین دبریالیتوب په حال کي دي دښمن ماتي خوړلي، زمونږ هیڅ سنګردښمن ندي نیولي ، ددښمن زیاتي وسلي لوي لوي مرکزونه مجاهدینو فتحه کړي اونوریه هم فتحه دمجاهدینو وي . دحزب اسلامي مجاهدین ددښمنوځواکونو سره لاس په ګریوان جګړه کي بوخت دي اودنورو تنظیمونو مجاهدین زمونږ دمجاهدینو سره اوږه په اوږه جنګیږي ، زه ټولو مجاهدواو مهاجرو وروڼوته اطمینان ورکوم چي مونږ په ګردیزکي ماتي نده خوړلي بلکه دښمن ماتي خوړلي اونوریه هم له ماتي سره مخامخ کیږي اوانشاء الله هغه وخت لیري ندي چي په ګردیز سربیره دکابل مرکز دمجاهدینو په لاس فتحه شي اوهلته به یواسلامي حکومت جوړشي .

